# Correction of Ali Khan's Several Ghazals

Samandar Yousafzai [1]

**Abstract**: Ali Khan is a well reputed classic poet. Due to the literary worth of his poetry, his poetry (Diwan) has been published many a time by several institutes and publishing agencies. But all of these additions contain some defective arrangement of couplets. This paper is an academic endeavor aiming at identifying those mistakes and rectifying them in the light of authentic and reliable sources.

**Keywords**: Ali Khan, Ghazal, Pashto Poetry

علي خان د پښتو کلاسکي شاعرۍ او په تېره تېره د غزل حوالې سره يوه ستره او معتبره نامه ده چې پښتو غزل ئې د رنګ او نور په خوشبويانو معطره کړے دے . د خپل لوړ فن او اعلیٰ تخيل په سوب ئې ځان په کلاسکي دوره کښې ځلولے دے . د حسن او عشق کيفيات، مشاهدات او تجربات ئې د فن په داسې غائيت او صداقت بيان کړي دي . چې د اولس په زړونو او ذهنونو کښې ئې له سوزه ډک سازونه غږولي دي. چې د مئينو او غمژنو زړونو دپاره د پهي لګېدو مترادف دي.

د علي خان ديوان تر ډېره وخته پورې په قلمي نسخو کښې خوندي وو خو بيا ورسته په مختلفو وختونو کښې د مختلفو ځايونو نه چاپ او خپور شوے دے ۔ او دغه سلسه لا جاري ده. ځکه چې فن نه مري او بيا داسې فن چې د تغزل اوعلويت په رنګ رنګين وي. هغه خو به چې تر کومې پښتو ژبه وي ارومرو به موجود وي.

> " د علي خان ديوان د هغه په ژوند کتابت شوے دے ۔ که نۀ د هغه ورسته چېرته چا کاتب پکښې د رحمان بابا د ديوان په څېر يو ځائې نيم کښې څه ور زيات کړي دي [p7 ,1]" ۔

که چېرې کاتب څه ورزيات کړي يا کم کړي نۀدي ولې د ترتيب سره ئې انصاف نه دے کړے، ددغه خاميو په اساس مونږ ويئلے شو چې د علي خان بابا ديوان د هغه په غېر موجودګۍ کښې مرتب شوےدے ۔ ځکه چې څو داسې غزلونه شته چې بې ترتيبه کړې شوي دي.ددغه بې

[1]Department of Pashto, Malakand University, Malakand, Pakistan

ترتیبو په تېروتنه کښې کاتب له د اړدو اړدو بحرونو او د علي خان د غزل په درېمه، پنځمه او اوومه وغېره مصرعه کښې د قافیو راوړلو تجربې دي چې یوه مصرعه په دواو ټکړو کښې په اسانه تقسیمېدي شي. چې د وزن په صحت ئې خاطر خواه اثر نه پرېوځي. خو ولې غزل د فني لوازماتوپه حواله د کمیو ښکار کېږي ـ ځکه چې د غزل په دوه ټکړو کښې د تقسیمېدو په صورت کښې مطلع او مقطع په اصل روح کښې برقرار نه پاتې کېږي . ځکه نو مونږ وئیلے شو چې د علي خان په موجودګی کښې ددغه خامیو احتمال ممکن نه وو.

د علي خان دیوان په اول ځل په ۱۹۵۱ءکښې د اداره اشاعت سرحد پېښور نه د تقویم الحق کاکا خېل صېب د مقدمې او تدوین سره چاپ شوے دے . په دویم ځل بیا هم تقریباً په هغه ترتیب تدوین سره د پښتو اکېډمی له خواه په ۱۹۸۸ءکښې خپور شوے دے . د حبیب الله رفیع صېب د مقدمې سره د قاسم بنوي په زیار د پښتو ادبي مرکزسرائے نورنګ بنو نه په کال ۱۹۸۶ء چاپ دے . دغه شان په ۲۰۰۵ءکښې دانش خپرندویه ټولنې د ډاکټرراج ولي شاه خټک صېب د سریزې سره خپور کړے دے . د مختلفو ځایونو نه د علي خان دیوان چاپ کېدل د هغه دخوږې شاعرۍ په اولس کښې د مقبولیت او ضرورت جوت ثبوت دے . خو څنګه چې مې مخکښې اووئیل چی څه غزلونه داسې دي چې په دغه مذکوره ټولو چاپ دیوانونو کښې ئې ترتیب ګډوډ شوے دے ـ دغه بې ترتیبي د قلمي نسخو نه را روانه ده، ځکه نو ټول لیکوال د کاتب په نقش قدم تلي دي . خو اوس هم اوبه له ورخه تېرې نه دي . دغه بې ترتیبۍ او کمۍ که په راروان دیوان کښې سمې شي . نود علي خان دغه غزلې به اولس ته په اصل شکل او اصل روح کښې وړاندې شي .

د علي خان په دیوان کښې چې په کومو غزلونو کښې تېروتنې شوې دي، هغه بالترتیب څه په دې ډول دي ـ د تقویم صېب په چاپ دیوان کښې [2, p38]، د حبیب الله رفیع صېب د مقدمې سره په چاپ دیوان [3, p22]، او د دانش خپرندویه ټولنې له خوا د چاپ دیوان [4, p7] چې کوم غزل درج دے هغه دا رنګ دے.

انګي دي که سپوږمۍ ده
که سور ګل دے د لاله دا
یا د زړونو آئینه ده
یا خو نمردے په رښتیا دا
دا هوسۍ ده که ساحر دے
که صیاد دے زړونه وړي
یا دي سترګې فتنه ګرې

یا خو دي نرګس شهلا دا

...

علي خان په پښتو ستائي

ستا د حسن اسبابونه

دا هنر ډېر مزېدار دے

که عسل دي که حلوا دا

په دغه حساب دغه ټول شپږدېرش شعرونه او دوه اویا مصرې جوړېږي او هره مصرعه اته سېلابه لري . ددغه مزکوره غزل اصل شکل او روح داسې دے چې په ترتیب سره به د غزل مطلع او مقطع هم سمه شي او وزن او بحر به ئې هم برابر شي. د اصل ترتیب سره به دغه غزل ټول اتلس شعرونه او ټولې مصرې شپږدېرش شي او هم دغه شان د غزل د هرې مصرې سېلابونه به شپاړس شي.

اننګي دي که سپوږمۍ ده، که سور ګل دے د لالا دا

یا د زړونو آئینه ده، یا خو نمر دے په رښتیا دا

دا هوسۍ ده که ساحر دے ،که صیاد دے زړونه وړي

یا دي سترګې فتنه ګرې، یا خو دي نرګس شهلا دا

...

دا دې زنه ده که سېب دے که کوهې ډک له فریب دے

د ښائست د بازار زېب دے،که میوه ده د شفا دا

دا دي خط دے که هاله ده، که سبزه تر ګل چاپېر شوه

شنه فولاد دي جوهر داره، که شهپر دے د عنقا دا

د جنت د باغ قمري دے، که شرین زبان طوطي دے

یا بلبل سېلاني دے، که جامي دے ډېر شېدا دا

زۀ پېرو محمدي یم ، هم طابع د صاف جامي یم

په دا دواړو پسې ما ده، ځکه کړے اقتدا دا

علي خان په پښتو ستائي، ستا د حسن اسبابونه

دا هنر ډېر مزېدار دے، که عسل دي که حلوا دا

د علي خان دويم غزل چې په اصلي تخليقي روح سره نه دې نقل شوے ، هغه د تقويم صېب په چاپ ديوان کښې په مخ "۵۳"[2]، د حبيب الله رفيع صېب د مقدمې سره په چاپ ديوان کښې په مخ "۳۰" [3] او د دانش خپرندويه ټولنې له خواه چاپ د علي خان ديوان کښې په مخ "۲۴" [4] څه په دا رنګ دے.

څه د نېکو همر هان دي
يو قرآن دويم حديث
چې و حق ته رهبران دي
يو قرآن دويم حديث
سپر د هرې خر خشې دي
د هغې جهان توشې دي
هم ښيوې ددې جهان دي
يو قرآن دويم حديث
...
که ګناه لري بيشماره
ته به ئې اوبخښي غفاره
وسيلې د علي خان دي
يو قرآن دويم حديث

دغه غزل اوږد رديف لري ځکه نو دوه حصې شوے دے . ددغه غزل اصل شکل او روح داسې دے چې په ترتيب سره به د غزل مطلع او مقطع هم سمه شي او وزن او بحر به ئې هم برابر شي . ټول شعرونه به يويشت او ټولې مصرې به دوه څلوېښت شي. او غزل به پنځلس بحرونو ته ورسي. کوم چې د علي خان اصل تخليق دے. ددغه غزل اصلي صورت څه داسې دے.

څه د نيکو هم هان دي، يو قرآن دويم حديث
چې و حق ته رهبران دي، يو قرآن دويم حديث
سپر د هرې خر خشې دي، د هغې جهان توشې دي

هم ښيوې ددې جهان دي، يو قرآن دويم حديث

...

که گناه لري بې شماره، ته به ئې اوبخښې غفاره

وسيلې د علي خان دي، يو قرآن دويم حديث

دغه شان د علي خان بل د اوږد بحر غزل چې اوږد رديف لري هم په مذکوره ټولو چاپ ديوانونو کښې په بې ترتيبۍ سره ليکلې شوے دے . د تقويم صېب په چاپ ديوان کښې په مخ "۷۲"، [2] د حبيب الله رفيع صېب د مقدمې سره په چاپ ديوان کښې په مخ "۴۴" [3] او د دانش خپرندويه ټولنه له خوا په چاپ ديوان کښې په مخ "۵۲" [4] دے. دغه غزل څۀ په دې ډول شائع شوے دے -

عشق به څو ساتم په زړۀ کښې

هيڅ پرې نه پوهېږم زۀ

څنگه پټ کړم غر په خوړه کښې

هيڅ پرې نه پوهېږم زۀ

...

که هر څو مينه پېغور ده

عاشقي په مثال اور ده

څو به ئې نغاړم په چړه کښې

هېڅ پرې نه پوهېږم زۀ

نه ئې عمر صبر ته توان شي

نه به خلاص ترې علي خان شي

حق حېران د رب په کړه کښې

هېڅ پرې نه پوهېږم زۀ

دا غزل چې په صحيح ترتيب سره وليکلے شي نو د غزل پټې خوبۍ او تجربې به څرگندې شي، د غزل مطلع او مقطع به راپېدا شي او دغه رنگ به غزل پېنځلس بحرونو ته ورسي . چې ددغه غزل اصل صورت به داسې شي .

غزل

عشق به څو ساتم په زړهٔ کښې، هېڅ پرې نه پوهېږم زهٔ
څنګه پټ کړم غـر په خوږه کښې هېڅ پرې نه پوهېږم زهٔ
که هر څو مینه پېغور ده، عـاشقي په مثال اور ده
څو به ئې نغاړم په چړه کښې، هېڅ پرې نه پوهېږم زهٔ
دا ئې کبر دے که ناز دے، څه بلا شعبده باز دے
بلا که د زړهٔ په وړه کښې، هېڅ پرې نه پوهېږم زهٔ
لکه ستا د سترګو آب دے، دا په نورو کښې نایاب دے
نه لا موند شي په چاړه کښې، هېڅ پرې نه پوهېږم زهٔ
...
نه ئې غم صبر ته توان شي، نه به خلاص ترې علي خان شي
حق حېران د رب په کـړه کښې، هېڅ پرې نه پوهېږم زهٔ

ددغه بې ترتیبه غزلونو د لړۍ بله کړۍ د تقویم صیب په چاپ دیوان مخ "۱۱۳" [2] د رفیع صیب د مقدمې سره په چاپ دیوان کښې په مخ "۷۰" [3] او دانش خپرندویه ټولنه له خوا په چاپ دیوان کښې په مخ "۱۰۰" [4] درج دے. چې په بې ترتیبه صورت کښې نه مطلع لري او نه ئې مقطع په کره او پوره ډول ده او د سېلابونو حساب ئې اتهٔ جوړېږي ـ په دغه دیوانونو کښې ئې شعرونه څه په دې ډول ترتیب شوي دي .

دود مې له قلـمه خېژي
ستا د مـینې اور دے پکښې
تن مـې اتـشدان شـوبو
زړهٔ مې سوے سکور دے پکښې
...
واړه زېړ زېلي وینم
نفس شرمـولي وینم
نور عـاشقان پلي وینم

یو علي خان سور دے پکښې

ددې غزل په صحیح ډول ترتیبولو سره د غزل مطلع او مقطع هم خپل خپل ځائیونو له راځي او د سیلابونو تعداد ئې شپاړسو ته رسي چې د علي خان د اږد بحر اوږد ردیف یوه کامیابه تجربه ده .

دود مې له قلمه خېژي، ستا د مینې اور دے پکښې
تن مې اتشدان شولو، زړۀ مې سوے سکور دے پکښې [2]

. . .

واړه زیر ځپلي وینم ، نفس شرمولي وینم
نور عاشقان پلي وینم، یو علي خان سور دے پکښې

د علي خان بل غزل چې د ترتیب له رویه خطا دے د تقویم صیب په چاپ دیوان کښې په مخ "۱۲۶" [2] ، د رفیع صبب د مقدمې سره په چاپ دیوان کښې په مخ "۷۹" [3] او د دانش خپرندویه ټولنه له خواه په چاپ دیوان کښې په مخ "۱۱۶" [4] ، داسې درج دے.

لاس مې نه ورځي حیران یم
اوس به څه رنګ زړۀ تري نیسم
چې سپین مه ئې خزانه کړه
توري زلفې ئې طلسم

. . .

دلبر ښکلے هوښیار بویه
قدردان پتي نیک خویه
باري مونږ نه شي دا قسم
علي خانه پخ هېڅ قسم

ددې مزکوره غزل د صحیح ترتیب سره مطلع او مقطع په کره ځاے او پوره ډول په وجود کښې راځي او د غزل خپل اصل وزن او بحر هم برابرېږي. دغه غزل په دے ډول پکار دے .

[2] په ځنې دیوانونو کښې دا مصره داسې ده: درست صورت مې مینې وسو، زړۀ مې سوے سکور دے پکښې

لاس مې نه ورځي حېران يم ، اوس به څه رنګ زړۀ ترې نيسم
چې سپين مخ ئې خزان کړه، تورې زلفې ئې طلسم

...

دلبر ښکلے هوښيار بويه، قدردان پتي نيک خويه
باري موند نه شي دا قسم، علي خانه په هېڅ قسم

ددغه تېروتنو د تصحيح نه پس دغه ټول ذکر شوي غزلونه د فني لوازماتو يعني په مطلع ، مقطع او د رديف او قافيه سره سره په وزن او بحر هم پوره کېږي. د هيت له رويه که دغه غزلونه يو خوا سمېږي نو د مضمون او مفهوم له رويه هم د علي خان فکر په واضحه توګه راڅرګنده کېږي ـ ددې سره سره د علي خان د غزل هغه پټې خوبۍ هم څرګندېږي کومې چې د هغه له خوا په غزل کښې تجربه شوي دي ـ په دغه تجربو کښې د مطلعو نه پس تقريباً په زياتره غزلونو کښې هر شعر وړومبۍ مصرعه ذولقافيتين وي. دغسې په کلاسکي دوره کښې اوږدۀ اوږدۀ رديفونه او بحرونه ډېر کم په نظر راځي ـ په دغه تجربو کښې علي خان په وړومبي صف کښې ولاړدے . چې تر ډېره حده پکښې بريالے شوے هم دے .

# Bibliography


[1] Rajwali Shah Khattak, Diwan-e-Ali Khan, Ed: Syed Abdullah Pacha, Danish Khparanduya Tolana, Peshawar, 2005

[2] Ali Khan, Deewan, Ed: Syed Taqweem-ul Haq Kakakhel, Pashto Academy, University of Peshawar, 2nd Edition, 1988,p 38.

[3] Ali Khan, Deewan, Ed: Qasim Banwi, Pashto Adabi Markaz, Serai Naurang, 1986

[4] Ali Khan, Deewan, Ed: Syed Abdullah Pacha, Danish Khparnduya Tolana, Peshawar,2005